# پټه خزانه

## د پښتو د ادب خورا قیمتي خزانه، چې د ادب تاریخ ئې (۱۲۰۰) کاله پخوا رابښئي

لومړی کتاب چې د پښتو ادب خورا قیمتـي او زاړه ذخـایر ئـې پـه لاس راکړل دهغه کتاب څو پاڼي وې چې د سلیمان ماکو تـر (۶۱۲ هـ) وروسته کښلی، او ددغه کتاب نـوم د پښتـو تـذکرة الاولیـاء وُ، چـې د کندهار په ارغستان یعني تاریخي اراکوزي کښې لیکل سوي وو.

لکه د پښتو د ادب شوقمنانو چې لوستی دی د هغه کتاب څو پاڼو د پښتو ادب په تاریخ کښې ډېر کومک راسره وکړ، چې شرح ئې د کابـل د مجلې او کالنو او پښتانه شعراء لومړي ټوک په ښه ډول نشر کړه.

هغه کتاب چې کشف او څو پاڼي ئې نشر سول، د پښتـو ادب ئـې د تاریخ له پلوه ډېر دمخه ثابت کړ وروسته ما وغوښتـل چـې دپ لټنـي او ګروېږني دغه لاړ ونه شلېږي او تل په دې هیله وم چې ګونـدي ترهغـه

لا بلکه ښه ذخیره او ټینګه وثیقه وموږ، چې زموږ د ژبې اصالت او قدامت او ادبي لوړتیا ښه زباد کړي او د ژبې د تاریخ له روښانه مخه څخه د ستر او خفا پلو پورته کړي. هغه وُ چې زه په دې هیله بریالی سوم، او یو داسي قلمي کتاب لاس ته راغی چې د پښتنو د ملي ادب دپاره د اروا په څېر ګټل کیږي، او دپښتو د ادب تاریخ د هجري کلونو دوهم قرن ته رسوي، ځکه چې دې کتاب د پښتو شعر تر (۱۰۰هـ) وروسته ضبط کړي دی، نو دا په ټینګه ادعا کولاي سو، چې د ژبې ادب او شعر تر اسلام دمخه هم موجود وُ، په دې دلیل : دغه شعر چې ګورو دا راته څرګندېږي چې اوم او نوزاد او هلک شعر نه دی بلکې پوخ دی، کلک دی کروړ دی، معمر دی، او باید چې ژبې تردې دمخه ډېر ادبي مراحل پی کړي وي چې دغي درجې ته ئې ترقي کړې وي، چې هسې پوخ او متین شعر دي پکښې وویلی سي، نو زباده سوه، چې تر اسلام دمخه باید دې ژبې ادبي آثار او اشعار درلودل، چې دغهتر (۱۰۰ هـ) وروسته د ژبې نضج اوپوخوالی او ادبي صلابت ئې طبیعي نتیجه ده.

ښه ! دا یو علمي خبره ده، او بیل تحقیق او پلټنه غواړي، زیاتي نه پکښې رغبیږم اواصل کتاب ښاغلو ویونکو ته ور ښیم :

دا کتاب پټه خزانه نومیږي، چې مرحوم محمد بن داؤد خان بن قادر خان هوتک په ۱۱۴۱ – ۱۱۴۲ هـ په کندهار کښي وکښل، محمد د اعلیحضرت شاه حسین هوتک د دربار ادبي لیکوال او د هغه عصر پښتو شاعر او ادیب وُ، چې دغه کتاب ئې د خپل پښتون او پښتو غوښتونکی او ادیب پاچا په امر ولیکی او د پښتو ژبې د ډېرو شاعرانو حال اواشعار ئې پکښي راغونډ کړل، د کتاب په مقدمه کښې د وینا او شعر صفت کوي بیا نو وایي چې ما دا دیرش کاله د پښتنوشاعرانو احوال لټاوه خو

ما له فرصت اوفراغ نه ؤ، بیا چي ملي قاید او پښتني مشر حاجي میرویس خان وطن آزاد کړ، نو فارغ سوم، او ددې کتاب په لیکلو مي د خپل پاچا په امر اوغوښتنه پیل وکړ مؤلف دا کتاب پر درو خزانو ویشلی دی :

**لومړۍ خزانه :**

قدماء اوهغه شعراء چي له ۱۰۰ ه تر ۱۰۰۰ ه تیر سویدي.

**دوهمه خزانه :**

د مؤلف معاصرین

**دریمه خزانه :**

دپښتو ښځي شاعري.

دا کتاب ټوله ۱۱۲ مخه دی دغه نسخه په ۱۳۰۳ هـ د محمد عباس کاسي په خط په کوټه کښي لیکله سوېده، او مالک ئې مرحوم حاجي محمداکبر هوتک ؤ، چي یو ویښ او عالم او د پښتو د ادب شوقمن سوداګر ؤ.

**لومړۍ خزانه :**

په لومړۍ خزانه کښي مؤلف ددغو شاعرانوحال او اشعار د زړو کتابو په استناد راوړي دي :

۱. بابا هوتک : دبارو زوي چي په ۶۶۱ ه زېږېدلی اوپه (۷۴۰ هـ) د عمر پر نه اویایم کال وفات سویدی، دده یوه حماسي او جنګي ترانه ضبط ده چي دمغولو په جګړو ئې د ځلمو په تشویق ویلې ده.

۲. شیخ ملکیار : دبابا هوتک زوي چي د (۷۴۹ هـ) په شاوخوا کښې ژوندی اود ترنک پر غاړو اوسېدی دده یوه ناره په دې کتاب کښې سته، چي عشقي تاوده احساسات لري، او د ترنک رود ته خطاب دی.

۳. اسماعیل : دبیټ نیکه زوي چي د (۴۰۰ ه) په شاوخوا ژوندی وُ، او ددغه نیکه یو شعر سلیمان ماکو پخپله تذکره کښي هم لیکي ( وګورئ پښتانه شعراء لومړی ټوک ) دده یوه ناره خپل تربور خرښبون ته خطاب دی، اودخپلوی ښه احساسات ځني ښرګندېږي.

۴. خرښبون : د سړبن زوي چي په (۴۱۱ هـ) وفات سویدی. ده د اسماعیل د نارې ځواب په یوه څلوریځ (مربع) شعر ویلی دی.

۵. شیخ متی : دشیخ عباس زوي چي په (۶۲۳ ه) متولد او په (۶۶۸ ه) د پنځو شپېتو کالو په عمر د ترنک پر غاړه وفات سوی او دکلات پر غونډۍ ښخ دی ددې نیکه یو د مناجات خورا سوزان او د اوره ډک شعر ضبط دی.

۶. امیر کروړ جهان پهلوان : دامیر پولاد زوي چي د غور سوری پاچهان دی، امیر کروړ په (۱۳۹ ه) د غور په مندیش کښي پاچا سواو د ابو مسلم سره ئې دعباسي کورنۍ په نصرت کښي کومکونه وکړل، یوشعر ویاړنه ( فخریه، رجز) دده په نوم ضبط دی او دا شعر د موضوع او ظاهري محاسنو له خوا ډېر کروړ او متین او خوږ دی، او دقدامت له پلوه هم په دې کتاب کښي تر ټولو پخوانی دی.

۷. شیخ اسعد : د محمد سوري زوي چي د امیر محمد سوري معاصر اوپه (۴۲۵ ه) د زمینداور په بغني کښي وفات سو، دی دامیر

محمد سوري سره د غور په آهنگران کښي اوسېده، چي سلطان محمود له غزني څخه غور ته ولاړ امیر محمد سوري په آهنگران کښي محصور او وروسته محمود ته تسلیم سو، محمود دی بندي غزني ته واستاوه خوږ لاري مړ سو، شیخ اسعد چي دامیر محمد ملگری ؤ، دده مرثیه ئې وویله، چي په دې کتاب کښي ضبط ده.

٨. ښکارندوی : چي پلار ئې احمد او د فیروز کوه کوتوال ؤ، اوښکارندوی د سلطان معزالدین محمد سام د دربار مخور سړی ؤ، چي هغه سلطان پر هند یرغلونه کړل، ده ئې یو دستایني بولل (قصیده) وویله چي په دې کتاب کښي راغلې ده.

٩. ابو محمد هاشم بن زید السرواني البستي چي په (٢٢٣ هـ) د هلمند سروان (سروان کلا) کښي زوکړی او په (٢٩٧ ه) په بُست کښي وفات سویدی. دا سړی د ابن خلاد مشهور عربي ادیب شاگرد ؤ او دخپل استاد یو عربي شعر ئې په پښتو ترجمه کړیدی چي په دې کتاب کښي سته.

١٠. شیخ تیمن : د کاکړ بابا زوی چي د علاوالدین حسین سام په عصر کښي ( ٥٠٠ - ٥٥٠ ه) وفات سویدی دده یو عشقي شعر راغلی دی.

١١. شیخ بستان بړیڅ : دبستان الاولیاء مؤلف چي دا کتاب ئې په (٩٩٨ ه) کښلی دی او یوعشقي شعر ئې په خزانه کښي سته.

١٢. امیر الفصحاء شیخ رضي لودي : دشیخ حمیدلودي وراره چي پس له ( ٣٠٠ ه) په ملتان کښي پاچهان وه، دده یوشعر ضبط دی چي خپل تربور نصر ته ئې خطاب کړیدی.

١٣. نصر : دشیخ حمید لودي زوي، چي دشیخ رضي ځواب ئې ویلی دی.

۱۴. شیخ عیسی مشوانی : چي دشیرشاه سوري معاصر وُ، ( وګورئ پښتانه شعراء لومړی جلد) دده یوشعر ضبط دی.

۱۵. سلطان بهلول لودي : چي په (۸۹۴ ه) په هند کښي مړ دی، ددې پښتانه پاچا یوه رباعي په خزانه کښي سته.

۱۶. خلیل خان نیازی : چي د سلطان بهلول لودي د دربار سړی وُ، اویوه رباعی ئې په دې کتاب کښي راغلې دهٔ، و سلطان ته خطاب، چي سلطان ئې هم په یوه رباعي ځواب کړیدی.

۱۷. خوشحال خان ختک : چي په (۱۰۲۲ ه) متولد، او په (۱۱۰۰ هـ) وفات سویدی.

۱۸. زرغون خان نوزری : چي د زمینداور د نوزاد وُ. په (۸۹۱ ه) ئې د خراسان او عراق سفر وکړ، او د شیباني خان په جګړو کښي له سیستانه دفاع کړله، او د اشعارو دیوان ئې درلود، په (۹۲۱هـ) دکندهار په دېراوت کښي وفات سو. په دې خزانه کښې دده یوه خورا روانه او سلیسه اوخوږه او اثر ناکه ساقي نامه سته چي په دویئ (مثنوي) ده.

۱۹. دوست محمد کاکړ : دبابړ خان زوي چي په (۹۱۲ هـ) کال هرات ته ولاړ، او په (۹۲۹ ه) چي بیرته ړوب ته راغی نو ئې یو کتاب په مثنوي نظم کړ، ددې کتاب نوم "غرغښت نامه" وه، دی وایي : چي زما پلار بابړ خان د "تذکره غرغښت" په نامه یوکتاب نظم کړي وُ چي "غرغښت نامه" د هغه کتاب په ډول ده له غرغښت نامې څخه یو حکایت په خزانه کښي سته.

۲۰. رحمان بابا : دعبدالستار زوی چي په (۱۰۴۲ ه) د پېښور په بهادر کلی کښي وزیږیدی په (۱۱۱۸ ه) وفات سو، د رحمان بابا ډیر ښه

شرح حال په دې کتاب کښې سته، چې تراوسه دغسې دده د ژوندانه وقايع نه و راته معلوم.

۲۱. شيخ محمد صالح : د جلدك الکوزی وٗ، چې د (۹۰۰ هـ) په حدودو ژوندی وٗ، او دده شاگرد ملا الله يار الکوزی دده د ژوند شرح حال او اشعار راټول کړه، يو کتاب ئې د "تحفه صالح) په نامه وکېښ، دشيخ دوې غزلي ضبط سويدي.

۲۲. علی سرور لودي : چې د ملتان دېره وٗ د تصوف او عرفانه ئې لويه برخه درلوده يوه غزل ئې په خزانه کښې سته، د ژوندانه وخت ئې تر (۱۰۰۰ ه) دمخه دی.

## دوهمه خزانه :

په دوهمه خزانه کښي مؤلف خپل معاصرين ذکر کوی، او دا اکثر هغه خلق دي، چي مؤلف ليدلي دي دده ادبي ملگري يا دده دعصر مشاهير دي :

۲۳. ملاباز توخی : د کلات د اتغر وٗ، علمي تحصيل ئې په هند کښي کړی، اود مؤلف ملگری او دوست وٗ، دده يوه بدله په ملي لهجه ضبط ده.

۲۴. شاه حسين هوتك : چي د مؤلف د عصر پښتو روزونکی او علم پالونکی، او ډير عالم او اديب ځلمی پاچا دی، مؤلف ددې ځلمي پاچا د ژوندانه شرح په داسي ډول کوي، چي د وطن دتاريخ مجهولات لځوي، او د هغه وخت اوضاع او د دربار کيف او مشاهير، او علمي تحريکونه ښه راښئي، مؤلف د شاه حسين ددربار ادبي ليکوال دی، وايي : چي زه دپاچا پښتو او پارسي اشعار ليکم، او د شعر ديوان ئې غونډ سويدی، مولف د شاه حسين د عصر

فتوحات په اوسنی بلوچستان او هند کښي تر ډېرو اوملتانه بیانوي. او د پاچا د دربار د درو تنو علماوُ ذکر کوي، ملا یارمحمد هوتک چي دپاچا استاد دی، او د "مسایل ارکان خمسه" دکتاب موٌلف دی، بل عالم ملا محمدیونس توخی د کندهار د جامع امام چي "جامع فرایض" کتاب ئې کښلی دی، بل مدار المهام صدر الافاضل ملا زعفران ترکی چي د دربار مشر دی، او په طب کښې "گلدسته زعفراني" کتاب تالیف کړي دی. په خزانه کښي د شاه حسین هوتک یوه غزله ضبط ده.

۲۵. ملا زعفران : چي دمخه ئې ذکر وسو یوه قطعه شعر ئې په خزانه کښي دی.

۲۶. محمد یونس خان موسی خیل : چي په (۱۱۳۰ هـ) یو دېرش کلن ځلمی وُ، په خیبر کښي اوسېدی، د اشعارو دېوان لري. دوې غزلي ئې ضبط دي ( ددې شاعر دېوان هم ما ډېر خوشخط اومطلا لیدلی دی او نقل ئې سته.)

۲۷. محمدگل مسعود : چي په پېښور کښي اوسېد او یوه ملي بدله ئې ضبط سوېده.

۲۸. عبدالقادر خان ختګ : چي دېوان ئې دمخه ما چاپ کړي دی دلته دده د سوانحو ځني ښي نقطې سته چي پخوا نه وې راته ښکاره مثلاً : د تولد تاریخ ۲۳ د جمادی الثانی ۱۰۶۱ ه د کابل راتګ (۱۱۱۳ ه) د خزانې موٌلف وایي : چي ما یو کتاب له صدر دوران بهادر خان ځخه په (۱۱۴۰ ه) ولید چي د عبدالقادر خان په خط او دده تالیف وُ، "حدیقه ختک" د عبدالقادرخان په تالیفاتو کښي دا کتاب اوسنیو پښتنو ته نه وو معلوم.

۲۹. صدر اکابر دوران بهادر خان : دشاه حسین سپاه سالار ؤ چې روب، شال، ډېرې ئې تر ملتانه ونیولې، توریالی ادیب وو دکندهارعلماء او ادباء هرکله پر ده راټول وه، ده به ښه پالل شاه حسین ده ته د "ورور" خطاب کړ او عوامو امیرالامراء باله مؤلف ددې توریالي سپه سالار ادب پالنه اوعلم روزنه ستایي، او یوه بدله په ملي لهجه دده له اشعارو څخه په خزانه کښي خوندي کوي.

۳۰. ملا محمد صدیق پوپلزی : د یار محمد زوی د ارغسان اوسېدونکی چي عالم اوعشقي ځلمی دی، د کتاب د لیک پر وخت (۲۳)کلن ؤ، دده یوه ملي بدله ضبط ده.

۳۱. ملا پیرمحمدهوتک : مشهور په میاجي د ملا سرور زوی ؤ، چي د شاه محمود فاتح سره اصفهان ته ولاړ او هلته په "پیرافغان" مشهور ؤ، ده دوه کتابونه کښلي دي، یو"افضل الطرایق" داخلاقو په علم، دوهم "القرایض" مؤلف له افضل الطرایق څخه یو منظوم حکایت را نقل کوي او داسي ښکاري چي ټوله کتاب په مثنوي پښتو نظم دی.

۳۲. اللهیار افریدی : چي په بوری کښي اوسېد او دشعر دېوان ئې درلود، مؤلف ئې یوه غزل را نقل کوي.

۳۳. صدر دوران بابوخان بابی : چي په اتغر کښي اوسېد د کرمخان زوی ؤ اوپه وطني جهاد کښي د مرحوم حاجي میرویس خان ملګري ؤ او بیا د شاه محمود سره داصفهان په جنګو کښي هم شامل ؤ دې توریالی ادیب په (۱۱۲۹ ه) د "شها اوګلان" ملی قصه په مثنوي نظم کړه چي مؤلف یو څو بیتونه له هغه کتابه را اخیستي دي اودکتاب نوم " قصص العاشقین" ؤ.

۳۴. ریدی خان مهمند : د غیاث خان زوی د مسعود خان لمسی وُ، چي د کندهار د مهمندو کلی ددوي په نامه دی غیاث خان په ملي جهاد کښي د مرحوم حاجي میرویس خان ملګری وُ او ریدی خان هم د شاه حسین په دربار کښي ډېر مخور او معزز وُ ریدیخان په (۱۱۳۶ ه) اصفهان ته ولاړ او دبریالی شاه محمود په حضور کښي وُ چي بیرته راغی دحاجي میرویس خانه له وخته رانیولې بیا د شاه محمود تر جګړو پوري ئې ټوله وقایع څلور زره بیته په مثنوي نظم کړه چي نوم ئې "محمودنامه" وُ، چي دغه کتاب ئې د شاه حسین حضورته وړاندی کړ زر طلاوې صله وموندله مؤلف له دې کتابه یو خورا خوږ باب غوره کړی او په خزانه کښې راته ساتلی دی.

۳۵. محمدعادل بړېڅ : چي په شوراوک کښي اوسېد اویو کتاب ئې د "محاسن الصلوة" په نامه نظم کړ دده پلار محمد فاضل هم فاضل سړی وُ چي د "روضه رباني" مؤلف دی.

۳۶. محمدطاهر جمریانی : د محمد علي زوی چي په کندهار کښې دکانداري اوتجارت کاوه تحصیل ئې په مستنګ کښي کړی وُ ظریف څلمی او د مؤلف ملګری وُ یو څو بیتونه ئې مؤلف نقل کوی.

۳۷. محمدعمر خان : د مؤلف ملګری او معاصر او د محمدطاهر دوست وُ مؤلف ئې څو بیته راوړی ظریف سړی وُ.

۳۸. محمدایاز نیازی : زاهد او متورع سړی وُ د شعر دېوان ئې درلود اشعار ئې عارفانه نکات لري څو رباعۍ چي مؤلف دده له کتابه رانقل کړی دی پخې او عارفانه دي.

۳۹. محمد حافظ : د محمداکبر بارکزي زوی چي عالم او واعظ وُ د "تحفه واعظ" کتاب مؤلف دی وعظیه اشعار ئې ستهٔ.

۴۰. نصر الدین خان اندړ : د محمدزمان خان زوی د شاه حسین د دربار سړی وُ متخلص په "نصر" چي د شعر دیوان ئې هم درلود یوه ملي بدله ئې مؤلف ضبط کړېده.

۴۱. ملا نورمحمد توخی : چي د ملایارمحمد زوی او دشاهی کورنۍ استاد، حسن عالم کورئې په پنجوائی کښي وُ، د "نافع مسلمین" په نامه ئې یو کتاب کښلی دی یو د پند نظم ئې مؤلف راوړی.

۴۲. شاعر ظریف عبدالطیف اڅکزی : د غلام محمد زوی چي له بوستانه د کندهار ماشور ته راغلی عالم اوحافظ سړی وُ ځیني د ورم قیصې ئې نظم کړي دي، چي په ښکاره ظرافت او په دننه کښي وعظ او ورم اوپند دی، یوه قیصه ئې چي په ملی لهجه بدله ده مؤلف ځني رانقل کوي.

۴۳ سپه سالار سیدال خان ناصر : د ابدال خان زوي اوباړی زی ناصر وُ، چي پلار ئې په ډېله کښي اوسېد وروسته د سلطان ملخی توخی په عصر کښي اتغر ته راغله، او ابدال خان د عادل خان توخی سره د آزادۍ په جګړو کښي ملګری وُ بیا ئې زوي سیدال خان لومړی د حاجي میرویس خان او بیا د شاه محمود بریالی ملګری او سپه سالار وُ سیدال خان د پښتنو یو مشهور بریالی او توریالی سپاه سالار وُ او خزانه وایي : چي دی عالم هم وُ مروج علوم ئې لوستي وه، او ادیب هم وُ، مؤلف دده یوه خورا خوږه ملی بدله رانقل کوي.

## دریمه خزانه :

په دریمه خزانه کښي مؤلف د هغو ښځو اشعار او احوال لیکي چي دد ئې شعرونه میندلي دي. دغه برخه که څه هم لږ ده خو ډېره خوږه

ده ځکه چي تراوسه موږ ته ددغو پښتنو مېرمنو احوال او اشعار هیڅ معلوم نه وه، ددغو مېرمنو احوال اواشعار ئې راوړي دي :

۴۴. نازو توخۍ : دغه پښتنه مېرمن دپښتنو په تاریخ کښي ښه شهرت لري ځکه چي لومړی خو د سلطان ملخي توخي لور ده، چي داسړی په خپل عصر کښي له جلدکه تر غزني حکمران وو، اولکه چي موږ ته ښکاره ده ددهلي مغولي شاهنشاهانو دی په رسمیت هم پېژاند (وګورئ حیات افغاني) دوهم دا چي دې نومیالۍ مېرمني داسي زوی روزلی دی لکه مرحوم حاجي میرویس خان چي دپښتنو دسلطنت لومړنی ژوندی کوونکی دی. په دې کتاب کښي دنازو پښتنې مېرمني دژوندانه شرح ښه راغلې ده، چي دا یوه ډېره سخیه او عابده او دپښتنوالي په صفاتو ستایلې ښځه وه، غرباء او مسافرین ئې روزل، او دوی ته به ئې ډوډۍ او کالي ورکوله، توریالۍ هم وه مؤلف له خپله پلاره روایت کړی، چي حاجي میرویس خان تولد سو نوئې مور خوب ولید، چي ښېڅ نیکه دې ته وایي : " دا زوی ښه وروزه ! چي لوي سي لوي کارونه به وکړي او له نسله به ئې پاچهان پیدا سي." نو مور به حاجي میرویس خان ته هرکله ورمونه کړل، : " چي زویه ! دشیخ ښېټني نیکه له قوله ستا په مخ کښي لوي کارونه دي، چي لوی سې، دخدای عبادت او دخلکو خدمت کړه ! ته خدای پیدا کړې ددې دپاره چي لوي کارونه تر سره کړې، او خلق الله په خدمت ستا آرام وکړي." په ۱۱۱۹ ه چي حاجي میرویس خان مرحوم د وطن آزادي حاصله کړه نو ئې د شکر سجده اداء کړه او وې ویل : " چي اوس ما دمور وصیت پر ځاي کړ !" مؤلف د نازو ، یوه خورا خوږه او بلیغه او قیمت داره رباعي ضبط کړېده، او وایي : چي

ددې اشعار ډېر دي او داسي ښه دي، چي نارینه هم هغسي اشعار نه سي ویلای.

۴۵. حلیمه : دخوشحال خان خټک لور او حافظه او زاهده مېرمن وه، چي ښه اشعار ئې ویله مولف ئې یوه غزل له خپله پلاره روایت او نقل کوي.

۴۶. بي بي نېکبخته : دشیخ الله داد مموزی لور وه چي په اشنغر کښي د (۹۵۰ ه) په شاوخوا کښي اوسېده یو کتاب ئې په نصیحت او عرفان کښي د "ارشاد الفقراء" په نامه په پښتو په ( ۹۶۹ هـ) نظم کړ. عارفه ښځه وه چي مولف له هغه کتابه ددې یو څو نظمونه را نقل کوی.

۴۷. بی بی زینب : دمرحوم حاجي میرویس خان لور اوعالمه او شاعره مېرمن وه، د خپل ورور شاه حسین سره ئې د جهانداری او پاچهی په کارو کښي مرسته کړه هغه وخت چي ددې د ورور شاه محمود بریالی د مرگ خبر له اصفهانه را ورسېد دې شاعري خور ئې په ملي وزن یوه مرثیه وویله، چي دغه مرثیه په خزانه کښي سته او ډېر ښه احساسات او د شعر کمال ئې څني ښکاره کیږي.

۴۸. زرغونه : د ملادین محمد کاکړ لور او عالمه مېرمن وه، خط ئې خورا ښه لیکی، په (۹۰۳ ه) ئې په پښتو د سعدي بوستان په نظم ترجمه کړ چي مولف له هغه کتابه یوه قصه په خزانه کښي اقتباس کړېده.

۴۹. رابعه : په کندهار کښي دبابر پادشاه په عصر کښئ اوسېده یوه رباعي ئې مولف ضبط کړېده.

دا وه دکتاب د درو خزانو محتویات چي لوړ مو لنډ وليکل ګويا زموږ خزانه دپښتنو (۴۹) تنو شاعرانو شرح حال او اشعار لري چي ددغو شاعرانو زمانه له (۱۰۰ ه) تر (۱۱۴۳ ه) کاله پوري ده دکتاب په پاي کښي يوه خاتمه هم سته چي مؤلف د خپلي کورنۍ او پلار او خپل حال ليکلی دی چي ټوله ذکر سوي شاعران په دې کتاب کښي (۵۰) کيږي.

اوس چي ښاغلي ويونکي دکتاب په محتوياتو لنډ لنډ وپوهېدل نوبه لږ څه دکتاب پر ښېګڼو او مزاياوُ هم وږغيږم :

## دکتاب نثر او ژبه :

محمد هوتک ددې کتاب مؤلف د پښتو يو زبردست نثرليکونکی دي چي د سلاست او رواني له پلوه ئې نثر نظير نه لري، په پخوانيو نثر ليکونکو کښي د خيرالبيان او اخوند درويزه نيم منظوم نثر هسي اغېزه کړې وه چي ددوي سبک له پېښوره تر کندهار ه ټولو تعقيباوه، حتي ملا نور محمد غلجي چي د مؤلف معاصر او د يوه درباره او يوه ځاي خلک دي هم د خيرالبيان دناوړه نيم منثور ليک د سبک اقتضا کوی، مګر ددې کتاب مؤلف لومړی سړی دي چي روان ، سليس نثر لکه دپښتو خبري اومحاوره چي ده کټ مټ ئې ليکي، که موږ دپښتو نورو منثورو آثارو ته وګورو دا به ثابته سي چي محمدهوتک دغه کتاب د پښتو په نثر کښي يو شهکار پريښي دی.

دپښتو د خورا قديم نثر نمونه چي تراوسه مو ميندلي ده هغه دسليمان ماکو نثر دی خو په هغه نثر کښي د ژبي داصلي محاورې او عنصر اغېزه لږ ښکاري، بيا دخوشحال خان او پير محمد کاکړ او افضل خان او عبدالقادر خان نثرونه چي موږ په عيار دانش ، اومعرفه

الافغاني او تاريخ مرصع او پښتو ګلستان کښي ليدلي دي، کـه څـه هـم ډير غنيمت دي مګربيا هم ددې کتاب سلاست او روانـی او خوږتـوب ته نه رسيږي، محمد هوتک لومړی سړی دی چي د ليک سبک ئې د محاورې او خبرو اصلي اساس تـه وګـرزاوه او لکـه د پاړسـو اوعربـي انشاء پردازان مصنوعْ نثرونه او مسجع او مقفي ليکونـه ئـې پريښـووه، سادګي او بساطت او سلاست ئې د نثر ليکلو د اسـاس پـه ډول غـوره کړ، چي تراوسه لاهم اوسنيو ليکونکو ته دهـدايت مشـعل ګرزېـدلای سي.

## د کتاب لغوی ښېګڼې :

د پټي خزانې يو مهم مزيت دادی چي د پښتوژبي ډېر زاړه لغـات او مواد ئې را ساتلي دي په دې کتاب کښـي وينـو چـي د پښتـو پـه زړو اشعاروکښي ډېر داسي لغات او کلمات راغلي دي چي اوس بالکل مـړه دي، د پردو ژبي غلبې زموږ ژبه را تالا کړېده او خورا غنيت ثروتونه او لغويْ پانګي ئې را څخه وړي دي، د مثال په ډول زه د لته ددې کتـاب يوڅو لغتونه راوړم، چي ښاغلي ويونکي ددې کتاب لغوي ذخيـرې تـه ځير سي او لږ څه مسئله ښه ورته څرګنده سي :

چندی = شاعر

خاتيځ = شرق

لوېديځ = مغرب

برمل = پيشين

لرمل = نمازديګر

ترمل = شام

نمزدک = مسجد
دریځ = منبر
واکمن = شاه
هسک = آسمان
بودتون = بُتکده
زلما = جواني
جنډی = گل
څنډون = اُفق
جګړن = لښکر
ګروه = دین
من = اراده
تون = جای
اتل = پهلوان
رغا = بیزاری
ځلا = تابش

دا یو څو لغتونه ما د مثال په څېر ولیکل، خو لغوي ذخیره ئې ښه او خورا غنیمت ، او اوس ډېره راته په کار ده.

## ګرامري مزایا :

ددې کتاب په زړو اشعارو کښي دا ښه راته څرګندیږي چي پښتوژبه د قواعدو او ګرامر له پلوه پخوا ارته وه او اوس ئې ډېر ګرامري مواد ، له لاسه وتلي دي، مثلاً : ډیري کلمې سته چي اوس یې څني جزوي ریښې په ژبه کښي راپاته دي، مګر مصدري کیف او فعلي صورت ئې

محو سویدی، مثلاً : ګاڼل مصدر چې د (آراستن) په معنا دی او فعلونه ئې وګاڼل او نور چې اوس نه مصدر سته نه فعل خو ګاڼه (زېور) موجود دی.

دغسي دی : ښکلل ( آراستن) یرغالل ( تاختن) یونل ( سفر کردن) رپل (اهتزار) او نور، چې اوس ئې فعلي او مصدري کیف ورک سوی خو ځیني ریښې ئې پاته دي، دغسي دژبې ډېر ګرامري پخواني خواص او مزایا دا کتاب راښئي.

## تاریخي ښېګڼي :

دا کتاب علاوه پر دې چې دډېرو ملي شاعرانو احوال راسپاري، د وطن د تاریخ ځیني مهم وقایع هم ضبطوي او ډېر غیر مکشوف مواد په لاس راکوی مثلاً : دپښتنو لودي سلاطینو پښتونوالی ثابتوي چې ځینو مؤرخینو خالص عرب ګڼلي دي لکه : شیخ حمید لودي او نصر او داؤد، چې وروسته تر ۳۰۰ هـ په ملتان کښې پاچهان وه، دوهم د غوري پاچهانو د عصر ځني نوی نوی حوادث په سند قوي راښئي، او دا ثابتوي چې د غور پاچهان پښتانه او پښتو ژبې وه د هوتکو د دورې ځني داسي وقایع بیانوي چې تر اوسه له نورو کتابو څخه نه وه رامعلوم، رجال، مشاهیر، د دربار اوضاع، دپاچهانو علم دوستي راښکاره کوي. دا کتاب ډېر علمي، ادبي، حربي، ملي مشاهیر راباندي پېژني، او زموږ دپلرو او اسلافو احوال ښه راته ځرګندوی. دمختلفو دورو ډېر غیر مکشوف مواد راښئي.

دا کتاب راته ښکاره کوي چې د پښتنو اسلاف او نیکونه لکه په توره او جنګ او مېړانه کښې چه نومیالي وه دغسي هم دعلم اوادب خاوندان وه، ډېر مؤلفین او علماء راښئي، اودډېرو کتابو نومونه

اخلي، او حواله ورته کوي، چې تراوسه مو نوم هم نـه دی اورېـدلی ، مثلاً :

| | |
|---|---|
| تاریخ سوري | د محمد بن علي البستي |
| د خدای مینه | د شیخ متی خلیل غوریاخېل |
| لرغوني پښتان | د شیخ کټه متې زی |
| اخبار اللودي | د شیخ احمد بن سعید اللودي |
| کلید کامراني | د کامران خان سدوزی |
| غرغښت نامه | د دوست محمد کاکړ |
| محمود نامه | د ریدی خان مهمند |

او ډېر داسي نور کتب چي د وطن په علمي او ادبـي تـاریخ کښـي ډېر زیاتی کوي. د ښځو شاعرانو په خزانه کښي دا کتاب راښئي چي د پښتنومېرمني هم دوطن په علمي او ادبي تاریخ کښي ښه برخه لري.

## روایتي ټینګار او عنعنه :

محمد هوتک د کتاب مؤلف هسي عالم او فاضل سړی دی، چي په خپل کتاب کښي هیڅ کوچنی او لویه خبره ببله سنده نه لیکي، دتېرو شاعرانو په احوال کښي یـا راوي ښئـي، یـا ماخـذ او کتـاب تـه حوالـه کوي، یا خپله مشاهده لیکي، نوله دې لامله د کتاب روایتي اوعنعنـوي خواهم ټینګه او د ویسا وړ ده، ځکه چي مؤلف بـې سـنده خبـره نـه کوی ډېر شیان له خپله پلاره را نقل کـوي چـي هغـه هـم فاضـل او ادیب اوغښتلـی سـپه سـالار ؤ. تـر دې ځایـه مـي د کتـاب ځینـي خصایص او مزایا لنډ لنډ وښوول، په نورو ګڼو کښي بـه ورو ورو ددې کتاب نوري ښېګني هم ولیکم، او ځیني د اشعارو نمونې او د کتاب د نثر برخي به اقتباس کړم.(۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۲ کال، ۵ مه ګڼه، ۱ ـ ۹ مخونه.